# انتخابي شعرونه



ترتیب کوونکی: انجنیرعبدالقادرمسعود



## څلوریزه

ځيني په علم ګردن دراز کا

ځيني په زهد په شيخۍ ناز کا

ما سرنیولی د عشق په کاردی

ما دې په دا کې خدای سرفراز کا

************************

شاعر: خوشال خان ختیک

ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود

که دا ستا د خاطر مینه په اغیـــار وي
ستا د پاره دې اغیار هم زمـــا یـــار وي
هر سړئ چې په یو مخ بانـــدې مئین وي
له یوه مخه ئـــې ســـل مخه پکار وي
هر چې کـــانـــدي نوکري د پاچاهانو
خواه مخواه به د دربانو مـــنت بـار وي
زه با ستا له رقیبانو څه مـــانـــه کـــړم
دا دستور دی چې له ګُله سره خـــار وي
څو سل خاره ئې ښخ نه شي په تټـــر کې
کله وي چې د بُلبُل و ګُـــل تـــه لار وي
سجاده به د ســـاقـــي د لارې فرش کا
هر صوفي چې د سرو سترګو خـریدار وي
په جذبه د عاشقـــی بـــه لیـــونۍ شي
کـــه په قطع افلاطون غوندې هوښیار وي
پـــه رحمان باندې به هېڅ ملامت نه کا
هر ســـړئ چـــې ستا له مخه خبردار وي



شاعر : عبدالرحمان بابا
ترتیب کوونکی : عبدالقادرمسعود



## همدردي



ژاړي په غمونو کې خوا خوږی د هر چا سره
سل پتنګان سوزي د يوې شمې ژړا سره
ډک زړګي له اوښکو ګرځي وريځې په آسمان کې بيا
څه ژړا ملګرې ده د ژوند يوې برښنا سره
ټول باغ ژړيدلی ځکه اوښکې دي د ګل په مخ
ډير لکه لاله داغلي زړونه شته صحرا سره
نه ښايي انسان ته چې د بل په غم غمجن نشي
لويه بدبختي ده که څوک نه ژاړي له چا سره
داسې بې غمې دې خدای په هيڅ کور کې پيدا نکړي
کور کې چې وير وي اوبل خاندي له ليلا سره

******************************

شاعر: ګل پاچا الفت
ترتيب کوونکی: انجنير عبدالقادرمسعود



## لنډ عمرونه

څومره اوږده دي زموږ غمونه
څومره لنډي دي زموږ عمرونه
سړی له خوبه لا سم ويښ نه وي
چې پې خواره شي د مرګ خوبونه

************************

شاعر: اکاديميسن سليمان لايق
ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود



## دغم ګزمې

په ګلبڼ کې ګونګسي د خوشبويۍ شول،
چې دباد په لاس تا زلفې وسپارلې !
ګوندې بيا د غم ګزمې ګرځي را ګرځي،
دا چې خواته زما راغلې غلې غلې...
کابل (۷/۴/۱۳۷۱ )

شاعر: پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار
ترتيب کوونکی :عبد القادر مسعود

## محشر

شېخه مه راځه محشر دی مځکه سوځي آسمان سوځي
خم له اوره سره چوي پياله سوځي پيمان سوځي
د سکروټو محجرونه د سينو ګرداب ته لوېږي
په دوزخ کې پايکوبي ده ځپه سوځي توپان سوځي
د سوما له خمه اخلي نوش په نوش وروستي جامونه
د زردشت لحد اور واخيست خرقه پوش زاهدان سوزي
مهارت د علم غوارړي په محفل چې ور ګډ ېږې
د پخو رندانو ځای دی سست مذهب او ايمان سوځي
دا مسلک د خرابات دی په هر خم کې خرابي ده
حريفان په کې غرقېږي ساقي سوځي رندان سوزي
بد مستان دي هياهوی دی شوبې دم په دم ماتېږي
چيغې ورغلې محراب ته توبه سوځي شيخان سوځي
د مطرب ګوتې نخښږي له شهبازه لمبې ځاځي
څوک تازه محفل ته راغی چې بورا ورته ځان سوزي
عقل لاره ورکه کړې د جنونو غېږې ته لوېږي
دجنونو حکم چلېږي دانا سوزي  نادان سوزي
جهاني لارې يې ځاره هسې نه چې سره ورک شي
زمانه په زړه کړه ده قول سوزي پيمان سوزي



شاعر: عبد الباري جهاني
ترتيب کوونکی: عبد القادر مسعود

# تنده



ساقي ډکه پياله راکړه، زولنو ته مې زړه کيږي

ياغي شوو هوسونو ليونو ته مې زړه کيږي

د خندا فرصت مې نشته، عقله مه راته تم کيږه

يو څو غځيو غځيو اوښکو پښتنو ته مې زړه کيږي

په سړو سړو خبرو ماته نه شوه زما تنده

په سکروټو مې خړوب کړه، سرو لمبو ته مې زړه کيږي

مرور اميد مې ګرځي، د زخمي ذهن کوڅو کې

د مغرورې مينې ياده، ستا راتلو ته مې زړه کيږي

د آشنا د نظر اوره! راشه يو ځل مې ايرې کړه

وچ لرګی د شنه ځنګله يم، سوزيدو ته مې زړه کيږي

وارنا – بلغاريا (۱۱/۸/۱۳۲۳)

شاعر: صديق کاوون توفاني

ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

# راغله دلربا په ګلشن

راغله دلربا په ګلشن سيل د هر يو ګل کوي

زه يې کړم بيمار، اوس به نو کله رغول کوي

وې ويل په شونډو چې شربت د وصال در به کړم

ورشه يه رويباره دا رښتيا که غولول کوي

مخ مې ديار وليد په ځان پوه نه شوم بې خود شومه

تيزه ده لمبه د حسن، دغسې سيزل کوي

زر مخونه يو طرف ته مخ مې ديار بل طرف

سترګو کې خنجر لري او زړونه غوڅول کوي

خلکه! داسې مخ باندې شيدا زه (ملنګ جان) يمه

ګل ترينه شرميږي مخ په پانړو پټول کوي

شاعر: محمد امين ملنګ جان

ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود





## دیار دربارته

ندی عاشق ندی چې په مینه کې رسوا نشي
ندی مجنون ندی قرباني چه له لیلا نشي
تش کالبود به ګرځي چې زخمي شي په خنجر دعشق
هیڅ علاج د دې زخم په دم او په دوا نشي
عشق چې سیځلې وي نو جوړ به تر هغې نشي
څو پورې قسم دی چې دیار سره همراه نشي
خدا یږو امیران شود عشق درد کې غلامان دیار
نشته وصال نشته څو دیار د درد ګدا نشي
لاړ شه فریادي دیار دربار ته دې (سیلابه)ته
جوړ به نشې دمرض نه څو دې یار پخلا نشي

********************************

شاعر: امان الله سیلاب ساپي
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود

## د مینی دنیا




ستا ښکلې دنیا ته په هوس ارمان راغلی یم
لاس دمینې راکړه چې زه ډیر ستومان راغلی یم
کښینه مخامخ راسره ای محبوبی جار دې شم
ګوره سوی لوی د پتنګ په شان راغلی یم
ښه په مینه مینه نازولې راته وګوره
ستا د خوږو سترګو په آرزو حیران راغلی یم
ستا په لټه راغلم راته ګوره د مجنون په شان
ستا لیدو د پاره په ژړا افغان راغلی یم
وکوه زړه سوی او ډیره مینه ته له ما سره
خیر که مسافر یم زه په ښه ګومان راغلی یم
راشه د سرو شونډو په پیاله مې تنده ماته کړه
مات به خپل (پرهیز) کړم زه په کلک پیمان راغلی یم
********************************
شاعر: عبدالقدوس پرهیز
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود



## غزل

تل چې مې په خوله وه هغه یار څه شو
دلته چې راته هغه ریبار څه شو
مانه چې یې زړه په خندا یوړلو
اوس هغه دګل غوندې رخسار څه شو
نن چې په خوبونو کې هم نه راځي
هغه د خورو خنو بازار څه شو
تل چې میکده کې سوال د میو و
اوس هغه ساقي هغه خمار څه شو
هغه د ټکور د زړه همدم صنم
وو ایه قاصده نن سهار څه شو.

شاعر: افضل ټکور
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود



## مزل

د اوښکو قافلې مې په بارخو وهي مزل
که پیغله دکوچیانو په ډاګو وهي مزل
زړګی یې رانه وړی، ساقي راوړه ښکلی جام
چې مسته محبوبه مې په نخرو وهي مزل
سپوږمۍ چې پیغله شوې، مخ په وریزو پټوي
مینه ورته ګوره په ورو ورو وهي مزل
دا ماته بیړۍ کله به را رسي ساحل لور ته
جاله مې د امید په ګردابو وهي مزل
(پویانه) داډه اوسه چې دا ژمی به تل نه وي
نسیم د پسرلي په سردرو وهي مزل

شاعر: عنایت الله پویان
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود


خمار
موسم دی د گلونو، پسرلی دی، نو بهار دی
راشه ای جانانه ! زړه مې تاته انتظار دی
مستې دي بلبلې، مستې مستې ګڼاګانې کړي
مست به دې خيالونه شي، مست شوی ټول گلزار دی
خوند به د ګڼا واخلې د گل به ننداري وکړې
دا موسم خو ټولو موسمونو کې سردار دی
هر څوا رنګونه دګلونو زړه را ښکونکي دي
درونډ نظر ګلونو ته خو خامخا پکار دی
ستوري سره جام به دوطن په نامه پورته کړي
ټول محفل خمار دی ساقي هم خپله خمار دی
شاعر: ډاکتر کبير ستوري
ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود


غزل
ستوري خاندي ستوري ژاړي خبر نه يم
دوی راځي؟ که ما ورغواړي خبر نه يم
ورځې شپې دي برګې سترګې؟ که پړانګان
راته موسکې؟ که مې داړي خبر نه يم
چې زما د زړه د جام شراب يې نوش دي
پښيمان دي؟ او که وياړي خبر نه يم
زما زړه ماتوي دوی به چيرې اوسي
دا غمونه کور ويجاړي خبر نه يم
دا مهين غزل به څوک وايي (کاروانه)؟
بلبلان؟ که سندر غاړي خبر نه يم؟
شاعر: پيرمحمد کاروان
ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود



# راځه

دواړه سترګې دې لړتورې کـــــــړه راځه
امېلونه دې درپـــــــــورې کـــــړه راځه
یووار بیا د بنو برید رابـــــانـــــدې وکړه
دزړه ستنې مې نســــــــکورې کړه راځه
له تندې دې دلـــــــونګو خوشبویې ځې
تورپـــــــېکی دې دورې دورې کړه راځه
که زما د زړه تــــوتـــــې په دام کې ساتې
دا زړې لـــــــــومې دې نورې کړه راځـــــه
چې ځوانې دې په نظر نشې لـــــــه ما نه
غوړې ښنې دې لړ سپورې کـــــړه راځه
که د «خیال » د اوسېدوخونې ته راشې
دروازې درسره پـــــورې کـــــړه راځه

**شاعر : خیال محمد کتوازی**
**ترتیب کوونکی : عبدالقادرمسعود**



# بند

پرېږده دا دنیا د تنګ نظرو بیخي هیره کړه
راشه یوه خوله راکړه او لاس رانه چاپیره کړه
غواړم چې دمه شم او اوږده سترړیا مې وباسم
پریوځه نرمه لیچه د اورمېږ لاندې راتیره کړه
ښنګه به له شرمه د کلی په شانې سره شولې
ما دې چې په غېږ کې د دمې غوښتنه ډیره کړه
اوس خو به ډاډه یې چې زه ستا د نظر بند کې یم
ګوره چې مې توله ځوانې ستا په مینه تیره کړه
دا درته لا چا وې چې هادي خوږه بې توله خورې
هسې دې د شونډو د بوسو په وخت کې ویره کړه

شاعر:عبدالهادي هادي
ترتیب کوونکی:عبدالقادرمسعود

# زما مینه

زما مینه زما عشق زما وطن دی
دا مې ځان دی دا مې روح دی دا مې تن دی
څو ژوندي یمه وطن وطن به وایم
دا مې بڼ دا مې جنت دا مې ختن دی
پروا نه شته که په سرو وینو لاهو شم
هر مین د وینو سیند کې لامبوزن دی
که مې سترګې د غلیمو ړندې نه کړې
راته تو کړې چې بې ننګه او ډارن دی
زه د هغه پلار نیکه ربښتیني زوی یم
چې په ګور کې مردانه پروت سور کفن دی

شاعر: اسحاق ننګیال

ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود





# عشـــــق

سوز نه دی عشق ساز نه دی عشق، اه او ګریان نه دی عشق
مسته رنګیني دا نه ده، غم د جانان نه دی عشـــــق
خوب د ځوانۍ نه دی، د خوبونو ارمان نه دی عشـــــق
مینه د ملیار د سترګو، وخت د خزان نه دی عشـــــق
تور تش د تیارې ډک، د تیارو بیابان نه دی عشـــــق
مست د اومیدونو، یو دریاب روان نه دی عشـــــق
سترګو کې که راشي د شفق سره د خمـــــــار
عقل له که راشي د سپوږمۍ د رڼا تـــــــار
دې مستانه زړه له یوه حوره د تاتـــــــار
دا د مستۍ حد دی او د حد بندیوان نه دی عشـــــق
مسته رنګیني دا نه ده، غم د جانان نه دی عشـــــق
عشق یو وجد د رب دی په وجدونو د انسان کـــــې
یو دمیني ساز د زړه په سوي قبرستان کـــــې
روح د ړوکي ګل د سپرلي سترګو د خزان کـــــې
مرګ عشق ته حیران دی خو مرګي ته حیران نه دی عشق
خوب د ځوانۍ نه دی د خوبونو ارمان نه دی عشـــــق

شاعر: غني خان

ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود

## غزل

ژوند به وي، خندا به وي او کرکه به مختورې وي

داسې وخت به راشي چي سپوږمۍ به مو ځنګلورې وي

څه تېرۀ نېښنونه جګوي مي تل پر زړۀ باندې

ستا د ياد سورکۍ مچۍ جانانه ! څه سرزورې وي

څومره ديدنونه مي جانانه ! پر تا پاته دي

تۀ دغسې يې که ښايستې ټولې بدپورې وي؟

واړه دوښمنان دي رانه شکر- شکر څنګ وهي

مينه دي وطنه ! لکه غاړه چي را پورې وي

نه اسمان زهير شو او نه مځکه پرې خوړمنه شوه

دلته هره مور د صبر ونه وي، سرتورې وي

مينه چي سرې سترګې په هر زړۀ کې باچهي کوي

هغه د جنت خوندونه، هغه شپې به نورې وي

لاس تېوو لاسته بارکواله ! روڼا نه راځي

ته وا زندګي به مو تر کله لا شبکورې وي؟



شاعر: بارکوال مياخيل

ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

## غزل



ساز يمه، سرود يمه، شپېلۍ يمه

سر يمه، سندره غرنۍ يمه

ستا لپاره خدای پاک پيدا کړې يم

ستا لپاره مړه يمه ژوندۍ يمه

راشمه له تا نه مينه وغواړم

نه پوهېږم دا څه ليونۍ يمه

ستا رڼا زما رڼا ته نه رسي

ګله ته يې ستوری زه سپوږمۍ يمه

منځ کې د ديوانو سخته ګيره يم

زه د قاف د غرونو ښاپيرۍ يمه

لاس به تر قيامته له تا وانخلم

ټينګه په خپل قول پکتيانۍ يمه

***************************

شاعره: حميده پکتيانۍ

ترتيب کوونکی: عبدالقادر مسعود

## غزل

بیګاه راته په خوب کې، شاه لیلا راغلې وه
سرې شوندې هسکه غاړه، په خندا راغلې وه
د نازه او ښکلا نه، د مینې او حیانه
د لوړو غرو هوسۍ وه، په نڅا راغلې وه
تورې سترګې نرۍ غاړه، شونډې سرې لکه لالونه
د مینې دنیاګۍ ته، تمنا راغلې وه
دا شنه وه له خندا نه، زما مینه تخنیدله
رښتیا چې شاه لیلا وه، په وفا راغلې وه
را خورې یې په اوږو وې، تورې زلفې عنبرینې
لکه سروه هسې دنګه، یوه شهلا راغلې وه
ځلیدله تکه سپینه، د سپوږمۍ په شان حسینه
وه نوې پیغله شوې، په ښکلا راغلې وه
اکبري د خوب لیده و، دخیالونو په تال ځانګه اوس
دومره نه یې بختور، چې په ویښه درته بیا راغلې وه



شاعر: بسم الله اکبري
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود
(۸/۱۱/۲۰۱۱)

## د خیالونو دُنیاګۍ

د خپل یار په سینه پروت وای - سره لبان مې ښکلولای
د خوږې مینې دُنیا وای - تور زلفان مې لوبولای

د ښایسته ګلو باغچه وای - چې جانان مې راسره وای
زه مالیار ددغه باغ وای - سره ګُلان مې بویولای

د دلبر په لاس کې جام وای - زه مې یار ته په سلام وای
جام منګل کې د جانان وای - په ورو ورو مې غړپولای

د یار سترګې میخانې وای - دواړه شونډې سرې پیالې وای
پکې پروت نشه، نشه زه - سره شراب یې راکولای

د خیالو یوه زانګو وای - چې خپل یار ته په کتو وای
د یو بل په تماشه وای - تر سهاره زنګېدلای
د ګُلرخ زلفو کې باغ وای - پکې بل د عشق څراغ وای
ما هېواد شېرزاد ژړلای - خو چې یار راته خندلای



شاعر: هیواد شیرزاد
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود

لکه افغان د خونړي اخوند په دار شي کله
چي خيال مي ځوړند ستا دزلفو په کوم تارشي کله
ژوند هديره دارمانونو چي شوه ښه يي ويني
ښادي جانانه نو دمړي په مزار شي کله
دښايست سيند دغرورغر په منځ کي کلی دعشق
دابه نوڅنګه موتي زړه کي رااېسارشي کله
دچا شرقي لکه دغرب وربځو ته سا شي تنګه
چي دي دازلفي راخورې پر مخ غبار شي کله
چي دي سلام کي شوندې ونه خوړې ووېرېدم
پرهېز کوي سړی خوهله چي بېمارشي کله
هغه نامرده و ،خوتا ولي کول دغسي
کلک مي راونيسي خپل ځان راته په قار شي کله
چي دي په سترګو غرڅنيو پسي ورک وي مدام
يقين مي نه شي چي ارمان دي هم په لارشي کله
۲۰۱۲/۷/۷



شاعر : ممتاز ارمان
ترتيب کوونکی : انجنير عبدالقادرمسعود

# غزل

کله نا کله مي هوښيار زړګي نادان غوندې شي
دعشق دا سترې سفرونه ورته ګران غوندې شي
چي ستا په مينه، ستا په سترګو ورته و ګورمه
ددې نړۍ هر يو انسان راته جانان غوندې شي
خيالي جهان، خيالي انسان او خيالي ژوند جوړ کړمه
ستا د احساس په يوه څړيکه هر څه وران غوندې شي
هر يو ارمان به مي د ستوري په څېر وځليږي
که مي زړګی په رېښيا لوی د لوی اسمان غوندې شي
محبوبه ؛ تا ته چي د رګورم زړه مي وبر ښېږي
پر ګربوانه مي درېو اوښکو باران غوندې شي



*******************************

شاعر: محبوب الله محبوب
ترتيب کوونکی: عبدالقادرمسعود